ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

# د اشرف خان هجري په کلام کښې د ځنې شخصیاتو یادؤنه : یوه تحقیقي څېړنه

**Zeenat Bibi[1], Dr.Badshah-i-Room(Ali Khel Daryab) [2]**

***ABSTRACT***

*Ashraf Khan emerges as a distinguished figure in Pashto literature, embodying the legacy of his renowned father, Khushal Khan. A poet of both the sword and the pen, Ashraf Khan's verses traverse a wide array of topics, each meticulously examined with poetic finesse. This article delves into Ashraf Khan's poetic repertoire, focusing particularly on his portrayal of various persons and personalities from diverse fields and walks of life. Through an in-depth analysis of his verses, we explore how Ashraf Khan intricately weaves these personalities into his poetry, providing profound insights and perspectives on human experiences. From warriors to scholars, from lovers to leaders, Ashraf Khan's poetry resonates with the essence of each individual he portrays, offering a rich tapestry of Pashto literature that captures the depth and diversity of human existence. Through this research, we aim to shed light on the literary craftsmanship of Ashraf Khan and his enduring contribution to Pashto literature.*

***Key words**: Ashraf Khan Hijri, Pashto , renowned , Poet, Portrayal, Persons and personalities*

د پښتو شاعرۍ د دریم دور یاد شاعر اشرف خان هجري په کال ۱۰۴۴هـ کښې د خوشحال ختک په کهاله کښې سترګې غړولې دي ۔ د دده نه وړاندې د ستر خوشحال یو بل زوے په کال ۱۰۴۲هـ کښې پېدا شوے وۀ چې اکبرخان نومېدو ، ولې د اووۀ ورځې پائېدو نه پس وفات شو ۔ په دغه اساس اشرف خان په ژوندو زامنو کښې د ټولو نه مشرے زوے دے . د دده د پیدائش په حقله همېش خلیل لیکي:

> "اشرف خان هجري د خوشحال خان ختک زوے دے ، هجري په کال ۱۰۴۴ په خپل کلي اکوړه ختک کښې زېږېدلے دے ۔د خپلو ادبي خوبیو په وجه د نورو ورونړو په نسبت پلار ته زیات نزدې وۀ۔ "[1]

په خپل یو بل اثر "ساهو ادب" کښې هم دا ښاغلے داسې رقم طراز دے:

> " اشرف خان هجري د خوشحال خان ختک دوېم اولاد وۀ۔ دۀ نه وړاندې د دۀ یو ورور چې اکبر خان نومېدو ، د اووۀ ورځو په عمر مړ شوے وۀ۔ هجري د کال ۱۰۴۴هـ د روژې د میاشتې په اوولسمه ورځ خپل کلي سراے اکوړي (اکوړه ختک) کښې زېږېدلے او خپل پلار په تربیت کښې لوے شوے وۀ۔ لکه د خپل پلار د ځنو خوبیو خاوند وۀ اګر که دا خوبۍ د خوشحال خان ختک د علمي ، ادبي او سیاسي معیار هومره نۀ وې، ولې بیا هم شاید د دغو خوبیو په وجه د خپلو نورو ورونړو په نسبت خپل پلار ته نزدې وۀ۔ د یو زړۀ ور سپاهي په توګه ئې

[1] PHD, Scholar , Department of Pashto University Of Malakand
2. Associate professor , Department of Pashto University Of Malakand

قبیلوي جنګونو کښې هم څو ځله خپل کردار لوبولے دے۔ او قوم کښې هم د نورو ورونو په نسبت د اثر او رسوخ خاوند وۀ۔ "[2]

د خوشحال بابا په اولاد کښې چې کوم زامن په فرهنګي او ادبي حوالو سره د هغۀ په نقش قدم تللي دي ، په هغوي کښې یو اشرف خان هجري دے، هغه که یو اړخ ته لکه د خپل پلار د لوے فرهنګي او ادبي بصیرت څښتن وۀ۔ نو بل خوا ئې په سیاسیاتو کښې هم په عملي توګه لاس درلودو. او هم دغه وجه وه چې د خوشحال بابا نه پس د مغلي حکمرانانو د سترګو ازغے جوړشوے وۀ۔ د اشرف خان هجري د سیاسي کردار نه علاوه ادبي کار او زیار هم په پښتو ادب کښې د یادولو جوګه دے۔ دا ښاغلے د خپل دور د لوړې پائې شاعر تېر شوے دے ۔ او خپل کلام کښې ئې یو شمیر موضوعات په ډېره فنکارۍ رانغښتي دي. چې پکښې د حسن وعشق، اخلاقیاتو ، تصوف ، عصري شعور ، سیاسیاتو او حبسیاتو موضوعات شامل دي . ولې د دې نه سربېره ئې په خپل کلام کښې دژوند د بېلابېلو شعبو او مېدانونو د شخصیاتو تذکره هم کړې دي۔ چې په کښې مذهبي شخصیات لکه پېغمبران،اصحاب کرام ، اولیاء، بزرګان، روماني شخصیات، سیاسي شخصیات، ادبي شخصیات او داسې د نورو ځانګو سره تړلي خلق شامل دي۔ ده پخپله شاعرۍ کښې ددغه شخصیاتو یادونه په بېلابېلو مناسبتونو او حوالو سره کړې ده۔ دځه نه چې مونږ ته د اشرف خان هجري د ژور نظر او سترې مطالعې ادراک په ډېره اسانه کېږي .

که مونږه دهغه په کلام کښې د مذهبي شخصیاتو د یادونې پلټنه کوو نو په دغه سلسله کښې زمونږ مخې ته د یو شمېر پېغمرانو او نورو ډېرو مذهبي هستیو نومونه راځي۔ الله پاک د انسانانو د لارښودنې او هدایت دپاره دنیا ته په مختلفو وختونو کښې پېغمبران رالېږلي دي۔ دغه سلسله د حضرت ادم (ع) نه شروع شوې ده او په حضرت محمد (ص) باندې ختمه شوې ده۔ د حضرت ادم (ع) په حقله ایاز مقصود لیکي:

"حضرت آدم ابو البشر وړومبے انسان او د الله تعالیٰ برګزیده پېغمبر وۀ۔ وړومبۍ استوګنه ئې په جنت کښې وه ، د شجرې ممنوه د خوړلو په وجه په سراندیپ نومې جذیره راکوز کړے شو ، چې نن سبا ورته لنکا یا سرلنکا هم وئیلے شي۔ د محقیقینو د رائې مطابق حضرت آدم (ع) دوه صدۍ د خپلې ښځې بي بي حوا نه جدا وۀ او په خپلو لغزشونو ئې اوښکې بهولې، اخر الله تعالیٰ ئې قصور معاف کړو، په زمکه ئې 'خپل نائب مقرر کړو او جبرائیل امین په عرفات کښې پرېښودو، دلته ورسره بي بي حوا یو ځاے شوه د اکثرو خلقو په خیال عرفات ته دا نامه ځکه ورکړے شوه چې د دواړو پېژندګلو اوشوه، الله تعالیٰ دوئ ته دلته د کعبې جوړولو حکم وکړو۔ د آدم عمر زر کاله وۀ، د جبل ابو قبس په لمن کښې واقع غار مفاره الکنوز کښې دفن کړے شو، د ځینو خلقو په خیال د آدم (ع) قبر په کشمیر کښې دے"[3]

اشرف خان هجري په خپل کلام کښې د ادم (ع) ذکر کړے دے، چې د دې شعرونو نه په ډاګه دے:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

"آدم پـــه وسوســـه لـــه خلـــده لـــري پـــه لـــذت شـــۀ
ســـل بـــلا چـــې تـــۀ کـــړې پـــه لطمـــه وائـــې جفـــا ده"[4]

"پســـــــــــــــــران د آدم واړه غريبـــــــــــــــــان دي
وارد شـــــــــوي پـــــــه دا دشـــــــــته د افغـــــــان دي"[5]

"لا هالـــــه ئـــې بخـــري وکښـــې پـــه کتـــاب کښـــې
چـــــه نـــــۀ اســـــم د آدم (ع) نـــــۀ ئـــــې وجـــــود وۀ"[6]

حضرت سلېمان (ع) د الله پاک د طرف نه راغلے يو بل پېغمبر وۀ۔ د يو پېغمبر نه علاوه هغوي د بادشاهۍ، مال ومنال ، تخت وتاج او ډېر رعب و دبدبې څښتن وۀ۔ د دوئ پلار حضرت داؤد (ع) هم پېغمبر وۀ۔ د مسجد اقصيٰ او بيت المقدس بنياد هم دوئ ايښودے وۀ۔ په قرآن پاک کښې د حضرت سليمان (ع) ذکر اوولس ځايه راغلے دے۔ د حضرت سليمان (ع) بادشاهي صرف په انسانانو نۀ وه بلکې جن او حېوانات هم د دوئ تابع وو۔ مولانا حفظ الرحمان ئې پېژندګلو داسې کړې ده:

"حضرت سليمان د لوے خداے د ډېر خوږ پېغمبر حضرت داؤد (ع) زوے او د بطشابنت حنا د ګېډې نه پېدا شوے وۀ، بطشا د اوريا بي بي وه او د هغه شهيد کېدو نه پس حضرت داؤد (ع) په نکاح اخستې وه۔ "[7]

د حضرت سليمان (ع) ذکر د اشرف خان هجري خه په داډول کړې دے:

"د رخ قـــــدر ســـــليمان تـــــور د خطونـــــه
يـــا مېـــږے پـــه خـــدمت صـــف چـــې ئـــې معتـــاد دے"[8]

" څـــو مېـــږي غونـــدې ئـــې پـــروت يـــم پـــه جـــوس کښـــې
شـــــاعران همـــــه مېـــــږي زۀ ســـــليمان يـــــم"[9]

"سليمان چې تخت ئې باد وړۀ له شرفه
نهايت ئې تور بستر محل د خواب شۀ"[10]

دغه شان اشرف خان هجري د حضرت موسيٰ (ع) تذکره هم پخپلو شعرونو کښې کړې ده ۔ موسيٰ (ع) په داسې زمانه کښې سترګې غړولې وې په کوم اوان چې فرعون د خدايۍ دعوي' کړې وه ، او د خپلې حکمرانۍ د بربادۍ له ويرې ئې په بني اسرائيلو رنګا رنګ ظلمونه کول ۔ موسيٰ (ع) هم په دغه دور کښې دنيا ته تشريف راوړو . د موسيٰ (ع) پېژندګلو مفتي محمد شعيب داسې کړې ده:

"حضرت موسی (ع)، حضرت یعقوب (ع) کی اولاد میں سے ہیں۔ حضرت موسی (ع) کے والد کا نام عمران تھا۔ حضرت موسی (ع) کی پیدائش سے قبل ظالم وجابر بادشاہ فرعون نے حکم دے رکھا تھا کہ میری سلطنت میں جو بھی بچہ پیدا ہو اسے قتل کر دیا جائے۔ کیونکہ کسی نجومی نے فرعون کو پیش گوئی کر رکھی تھی کہ ایسا بچہ پیدا ہونے والا ہے جو بڑا ہو کر تیری سلطنت اور حکومت ختم کر دے گا۔ چنانچہ بچہ پیدا ہوتا فرعون کے جلاد سپاہی اسے موت کے گھات اتار دیتے۔ اس طرح تقریباً تیس ہزار بچے قتل کرا دیئے۔ جب حضرت موسی (ع) کی پیدائش ہوئی تو آپ کے والدین سخت پریشان ہوئے کہ بچے کو کیسے محفوظ رکھا جائے؟ تین مہینے تک بچے کی پیدائس سے متعلق کسی کو بھی خبر نہ ہونے دی۔ آپ کی والدہ ماجدہ بہت پریشان ہوتیں اور روتی رہتی۔ اخر اللہ تعالی نے آپ کی والدہ کے دل میں ایک عجیب ترکیب ڈالی کہ تم ایک صندوق تیار کرو جو مضبوط اور پانی سے محفوظ ہو۔ اس میں معصوم بچے حضرت موسی (ع) کو رکھ کر دریا میں چھوڑ دو۔ بے فکر ہو۔ دیکھ میں کیا کرنے والا ہوں۔ عنقریب موسی (ع) آپ کی طرف لوٹ دوں گا"[11]

اشرف خان هجري په دې لاندينو دوه شعرونو کښې د موسيٰ (ع) او د سامري ذکر کړے دے ، يو چې هغوي د هجرت نه پس وطن ته د خپلې بي بي سره واپسې کوله ، او لار کښې ئې بي بي ته د بچي د پيدا کېدو حالات راپېښ شول ، او بل چې موسي (ع) کوه طور ته لاړ او سامري د هغوي په غېر موجودګۍ کښې بني اسرائيل د سخي په عبادت د ګمراه کولو کوشش وکړو. اشرف خان هجري وائي:

"په ديدن ئې شتاب بويه طالبانو
انار بن په خوکه بل د موسيٰ نار که"[12]

" وي ئې د موسيٰ (ع) معجزه نۀ شي بې رونقه
نسبت که ئې يا وکړ په افسون د سامري"[13]

پورته دواړو شعرونه د تلمیح غوره مثالونه دي. هم دا ډول د دوي په کلام کښې د نورو ډېرو پېغمبرانو اولیاؤ، بزرګانو او نېکانو خلقو نومونه یاد شوي دي او کله کله د هغوي د ژوند ځینو واقعاتو پله اشاره شوې ده . حضرت محمد (ص) چې د تمام انسانیت دپاره یوه نمونه ده. او د دواړو جهانونو سردار دے، د پېدائش په حقله ئې قصص الانبیاء کښې داسې لیکلے شوي دي:

"نبی(ص) د دوشنبې (یعني د ګل) په ورځ باندې پېدا شوے دے. دا قول ډېر موکد قول دے او په دې باندې د ډېرو علماؤ اتفاق دے چې اکثره محققینو د دې ورځ په متعلق وئیلي دي چې د نبي (ص) پېدائش هم په دې کښې شوے دے او په دې کښې هیڅ اختلاف نشته "[14]

اشرف خان چې په خپل کلام کښې د چا ذکر ډېر ډېر کړے دے، په دغه مذهبي شخصیاتو کښې حضرت محمد (ص) سر فهرست دے. د مثال دپاره یو څو شعرونه چې:

" پیـــــروي د نبــــــي (ص) کــــــړه کـــــه جنـــــت غـــــواړې
بلــــــه لار پـــــه جهـــــان مــــــۀ ګنړــــه د وروســـــــتو"[15]

" بهشـــــت ځــــــاے د هغـــــو پــــــاکو دے بــــې شـــــکه
چـــې پــــه دیـــن ئـــې د نبــــي (ص) ثابـــت ایمـــان دے"[16]

" پــــــه حرمــــــت د محمــــــد (ص) واحـــــده خدایــــــه
چـــې پایـــــه ئـــــې پــــــه مرســـــلو کښــــــې والا ده"[17]

"چـــــې نــــــه مـــــخ لــــــه ازلــــــه پـــــه بهبـــــود وۀ
د نبـــــي (ص) دیــــدن هغـــــو تـــــه کلــــــه ســــــود وۀ"[18]

"نـــــوم ئـــــې ځکــــه محمــــد احمــــد محمـــــود شـــــۀ
چـــــې منصـــــب ئـــــې ازلـــــي مقـــــام محمـــــود وۀ"[19]

دغه رقم دوي په خپل کلام کښې نور ډېر مذهبي شخصیات یاد کړي دي. لکه دا شعرونه چې:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

"چـــې امـــام اعظـــم ســـفر لـــه دهـــره وکـــړ
شـــافعي هلـــه راغلـــې پـــه دا بـــر وۀ"[20]

"د مـــخ خـــال دې يزيـــد زۀ بـــل حســـېن يـــم
هـــر نفـــس ئـــې پـــه مـــا زار لکـــه عاشـــور کـــه"[21]

"د نبـــي يـــاران همـــه ځيلـــه افضـــل دي
صـــديق تـــن تـــر نمـــر روشـــن پـــه صـــدق لا کـــه"[22]

" مـــا ئـــې مينـــه پـــه حضـــور ليـــدلي نـــۀ وه
ولـــې اورم پـــه يوســـف د زليخـــا عشـــق"[23]

په پورته شعرونو کښې ئې د امام اعظم ، امام شافعي، امام حسېن، ابوبکر صديق (رض) او حضرت يوسف (ع) ذکر کړے دے۔

د مذهبي شخصياتو سره سره د دوي په کلام کښې سياسي شخصيات هم ذکرشوي دي۔ اشرف خان هجري چې په کوم وخت کښې ژوند کړے دے، د دغه وخت په سرګرم سياسي شخصياتو کښې د سيد مير المعروف امير خان خوافي نوم هم راځي۔ د سيد مير د پېژندګلو په حقله پروفېسر ډاکټر علي خېل درياب ليکي:

" د دۀ خپل نوم سيد مير وۀ، مشر ورور ئې شېخ مير نومېدۀ، کله چې عالمګير په تخت قبضه وکړه نو د دارشکوه سره د جنګ لپاره د اکبر اباد نه شاه جهان پله روان شو، دغه وخت مراد بخش سرکشي وکړه۔ سيد مير، مراد بخش ګرفتار کړو او د شاه جهان اباد قلعې ته ئې ولېږو۔ دغه کارنامه وه چې د عالمګير په امير خان ډېر زيات اعتماد پيدا شو او دۀ له ئې د قلعې سنبالښت، د اسونو خلاف، د امير خان خطاب، اووۀ زره روپۍ انعام، دۀ زريز روپۍ انعام، دۀ زريز ذات او پنځوسيز سورو منصب هم ورکړ"[24]

د سيد مير ذکر اشرف خان هجري په لانديني شعر کښې داسې کړے دے:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

"بــــازه! تـــــه چـــې بغـــــے کـــړے مـــــرګ دې روا دے
زۀ پــــــه ځـــــاے د امیـــــر خـــــان صـــــوبه متــــک یـــــم"[25]

په دغه اوان د اورنګزېب عالمګیر بادشاهي وه ، او هم ده اشرف خان هجري په بند کړے وه. ځکه نو دده یادونه هم اشرف خان هجري په شد و مد سره کړې ده . اورنګزېب عالمګیر نوم هم د ذکر وړ دے، چې د شاه جهان بادشاه ځوے وۀ، په ۲۴ اکتوبر ۱۶۱۸ء کښې د سرحد سره نږدې په یو کلي داهود (دوحد) کښې پېدا شوے وۀ. د ماشوموالي نه د حوصلې او بهادرۍ ښېښتن لیدے شۀ، دیني او دنیاوي دواړو رقم علوم ئې حاصل کړي وو[26] او د فارسۍ د نظم او نثر په لیکلو ئې ډېر ښۀ لاس بر وۀ. د دې هر څۀ نه علاوه ئې یوه ښکاره خوبي او ځانګړنه دا وه چې د بادشاهت باوجود به ئې ټوپۍ جوړولې او قرآن به ئې پخپلو لاسو لیکلو ددغه کارونو نه چې به کومې پیسې راتلې په هغوي به ئې د ژوند ګاډے چلوۀ. اورنګزېب اشرف خان هجري په بند کړې وه ، ځکه نو هغه د اورنګ زېب ذکر د یوې بلا او جور و ستم په توګه کوي ، وائي

" عشــــــق او هجـــــر دوه بــــــلا ســــــوم اورنــــــګ شــــــۀ
چـــــــارم یـــــــاد د وطــــــــن او زۀ ئـــــــې کـــــــاهق یـــــــم"[27]

"د اورنــــــګ جــــــور د اســـــــمان چــــــې پـــــــه صـــــــورت دے
پــــــــه فریـــــــاد د فرقتونـــــــو لـــــــه غوغـــــــا یـــــــم"[28]

د دې نه علاوه ئې په دې لاندې شعر کښې د درې ایراني بادشاهانو فریدون، منوچهر او کسريٰ بادشاه ذکر څۀ داسې کړے دے.

"ســــــل داغونــــــه ئــــــې پــــــه زړۀ لــــــه دنیــــــا لاړه
فریــــــــدون کـــــــه منــــــوچهر کـــــــه کســــــــري' دے"[29]

د روماني شخصیاتو ذکر هم د اشرف خان هجري په کلام کښې په کراتونو بیاموندې شي. دغه ذکر د مختلفو روماني شخصیاتو ذکر کړے دے. چې په کښې نارینه او زنانه دواړه کردارونه شامل دي. د پښتنې خاورې د رومانونو نه علاوه ئې د نورو نړیوالو روماني شخصیاتو ذکر هم کړے دے. د څه نه دا خبره جوتیږي چې اشرف هجري ددغه رومانونو او روماني شخصیاتو په اړه ژوره مطالعه لرله.

په دغه لړ کښې هغه د ادم خان درخانۍ د روماني داستان ذکر هم کړے دے۔ د ادم خان درخانۍ رومان ددې خورې سره تعلق لري ، ددې رومان د بنیادي کردار ادم خان پېژندګلو ډاکټر نورمحمد دانش بېټني داسې کوي ۔

"ادم خان چې د پلار نوم ئې حسن خان وۀ، د بازدرې اوسېدونکے وۀ۔ ډېر ښکلے حسین او ښائیسته انسان وۀ۔ د خپل حسن او ښائېست سره سره د ادم خان د رباب غږ ډېر مشهور وۀ۔"[30]

دغه رنګ د درخانۍ د پېژندګلو په لړ کښې ډاکټر محمد اعظم اعظم لیکي:

"د صدر خان په قیصه کښې درخانۍ د باز درې د خان لور ده۔ د دغې خان نامه صدر خان نۀ ده ښودلې خو دومره ښکاره ده چې د آدم خان د پلار په شان د درخانۍ پلار هم د بائیزو او رانېزو د تپې یو یاد خان وۀ۔ درخانۍ د لاثاني ښائېست او ښکلې ځوانۍ مېرمن وه او په خوا ؤشا علاقو کښې ئې د ښائېست درز خور وۀ"[31]

اشرف خان هجري د خپل محبوب نه د جدايۍ ذکر د ادم درخانۍ

د وامق عذرا او مجنون دهجر د ستونزو په تناظر کښې داسې بیانوي ۔

"ادم خان له درخو کله هسې ورک وۀ
لکه زۀ ئې له دلبره کړم هوښیاره"[32]

"نن مې ګوے د عشق له واړو ربوده کړ
تر وامق او تر مجنون تر ادم خانه"[33]

"د درخانۍ مخ په خاورو الوده شي
دیوانه ادم کجا چې ئې صفا کا"[34]

"ادم خان که د وفا په روش جوړ وۀ
اول ولے ته ارم ته تر درخانه"[35]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

"نه به بیا ادم شمله په ځهره کېږدي
چې درخو ئې سینه یخ په تماشا کا"[36]

. ددې ترځنګ اشرف خان هجري د مشهور روماني شخصیاتو نل، دمن، هیر، رانجها ، اؤ سعدو اسما تذکره هم پخپل کلام کښې کړې ده .

"د دمن محبت نل بې اوره وریت کړو
سعد لا زیر وزبر کړو د اسما عشق"[37]

"د هیرا نامه نامي ده په پنجاب کښې
د دمن اسم بلند له هندوستانه"[38]

"په رانجا به کار د عشق ولې مشکل وۀ
که نغوتے د دۀ غیرت هیرا غیاث"[39]

ددې پورته شعرونو نه علاوه د اشرف خان هجري د اسې نور ډېر شعرونه هم شتون لري ، چې هغه پکښې د ژوند د بېلا بېلو شعبو او څانګو سره تعلق لرونکي شخصیات یاد کړي دي. دلته دا خبره د یادونې وړ ده چې په کلام کښې دشخصیاتو ځایول که یو اړخ ته ګران کار دے ، په دې چې دا د یو شاعر نه د پوره فني تجربې غوښتنه کوي نو بل خوا دا مونږ ته دا خبره هم راښائي چې ددغه شخصیت په حواله شاعر څومره معلومات لري . ترکومې چې ددې دواړو خبرو تعلق دے نو مونږ ته د اشرف خان هجري ددې برنۍ مطالعې نه دا خبره راڅرګنده کېږي . چې هغه یو پړګو شاعر وه، اودفني باریکاتو نه د اګاهۍ سره سره د ژورې مطالعې او لویې پوهې څښتن وه .هم له دې امله د هغه په شاعرۍ د مذهب ، رومان ، سیاست ، تاریخ ، فلسفې او د ځنې نورو میدانونو شخصیاتو تذکره بیاموندې شي چې هغه ئې بېلا بېلو نسبتونو یادونه کړې ده او د خپل کلام معنوي او فني ارزښت ئې پرې سبوا کړې دے .

حوالې

[1]خلیل، همېش، د پښتو شعري ادب، ۱۰۰۰-۱۲۰۰هـ، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي ، دسمبر ۲۰۰۸ء، مخ ۱۷۹
[2]همېش خلیل، ساهو ادب، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، اګست ۲۰۲۱ء، مخ ۳۸

---

[3] ایاز مقصود، شخصیات کا انسائیکلوپیڈیا، انارکلی چوک لاہور، 1987ء، ص 33

[4] د اشرف خان هجري ديوان، مخ ۱۵۳

[5] هم دغه اثر، مخ ۲۱۹

[6] هم دغه اثر، مخ ۱۶۶

[7] قصص الانبياء از مولانا حفظ الرحمان ، مخ ۱۶

[8] د اشرف خان هجري ديوان، مخ ۲۳۹

[9] د اشرف خان هجري ديوان، مخ ۳۰۷

[10] د اشرف خان هجري ديوان، مخ ۴۳۱

[11] محمد شعیب، مفتی، " حضرت موسیٰ (ع) " مشمولہ روزنامہ دنیا، 16 جون 2023ء، پشاور

[12] د اشرف خان هجري ديوان، مخ ۳۱۶

[13] د اشرف خان هجري ديوان، مخ ۴۱۲

[14] قصص الانبياء از مولانا محمد احمد ، مخ ۴۷۷

[15] د اشرف خان هجري ديوان، مخ ۱۴۶

[16] هم دغه اثر، مخ ۲۵۹

[17] هم دغه اثر، مخ ۳۱۳

[18] هم دغه اثر، مخ ۱۶۶

[19] هم دغه اثر، مخ ۱۷۶

[20] هجري، اشرف خان، د اشرف خان هجري ديوان، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۱ء، مخ ۴۰۰

[21] هم دغه اثر، مخ ۱۹۲

[22] د اشرف خان هجري ديوان ، مخ ۴۲۹

[23] ديوان، مخ ۱۱۴

[24] بادشاه روم، ډاکټر، خوشحال او شخصيات، د افغانستان د علومو اکاډيمي، ۲۰۲۱ء، مخ ۱۷۲

[25] هجري، اشرف خان، د اشرف خان هجري ديوان، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۱ء، مخ ۵۰

[25] هم دغه اثر، مخ ۳۰۴

[26] اردو دائره معارف اسلاميه، جلد ۲۰، مخ ۶۳

[27] د اشرف خان هجري ديوان، مخ ۱۳۱

[28] د اشرف خان هجري ديوان، مخ ۱۳۵

[29] د اشرف خان هجري ديوان، مخ ۲۲۹

[30] بېټنې، ډاکټر نور محمد دانش، د پښتو ټپې عمراني مطالعه، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۲۰۱۸ء، مخ ۴۰۶

[31] اعظم، محمد اعظم، پښتو ادب کښې کردار نګاري (پي ايچ ډي مقاله)، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، اول ځل چاپ ۱۹۹۳ء، مخونه ۱۰۲، ۱۰۳

[32] هجري، اشرف خان، د اشرف خان هجري ديوان، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۱ء، مخ ۳۳۱

[33] هم دغه اثر، مخ ۳۲۵

[34] هم دغه اثر، مخ ۲۷۹

[35] هم دغه اثر، مخ ۳۲۶

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

---

[36] هم دغه اثر، مخ ۲۷۹
[37] هم دغه اثر، مخ ۱۱۴
[38] هم دغه اثر، مخ ۳۳۵
[39] هم دغه اثر، مخ ۷۲